

# توره پیشي

Ketabton.com


کتاب لیکونکي:Edgar Allan poe
ژباړه: جهان هاروني
کال:29/12/1400

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب معرفي

د کتاب نوم: توره پيشي

کتاب ليکونکي: آدګار الن پو Edgar Allan Poe,

ژباړه: جهان هاروني

ژباړي کال: ۲۹/۱۲/۱۴۰۰

ډيزاين: جهان هاروني

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاید تاسو پر دا  واقعي باور ونکړي، مګر دا یوه حقیقي کیسه ده، کمه چي زه یي لیکم.

دا کیسه به سبا زما سره یوځاي ختمه سي.

زه تل مینه ناکه او مهربانه وم ـــ شاید دغه تاسو ته ټوله ووائي.

هغوی به تاسو ته دغه هم ووائي- چي زما نسبت نورو شیانو ته حیوانان ډیر خوښیدل. کله چي زه کوچني وم،زما کورنۍ به تل ډول ډول حیوانان کور کي ساتل. په ځواني کي به مي ډیر وخت د همدوی سره تېرويِ، هغوی ته به مي خواړه ورکول او د هغوی صفا کارۍ به مي کول.

زه ډیر ځوان وم کله ي مي واده وکي. کله چي خبر سولم د میرمني مي هم حیوانان خوښیږي، ډیر خوشحاله سولم. هغي زموږ دواړو لپاره ډیر شایسته حیوانان رانیول. موږ د ځینو الوتنکو ډولونه، یو طلایی رنګه ماهي، او یوه دانه شایسته پیشي چي غټه او مکمل ډول تور رنګ او ډیره هوښیاره وه درلودل.

تر دغه اندازي پوري هوښیاره وه چي ځیني وخت به مي میرمن د خلګو پدا خبره خندل چي توره پیشي شیطان دي ددوي په عقیده د پیشي په و جود کي شیطان دي.

پلوتو ـــــ دغه زما  د پیشي نوم دی زما د خوښي وړ. همدا پلوتو وه چي تل به مي خواړه ورکول او تل به زما سره یی تګ کاوه، ځینی وخت به مي دا زما سره د تګ کولو څخه منع کول.

ډیر کلونه کیدل چي موږ ډیرښه ژوند کوي،او ډیرښه ملګري وو.

وروسته ما کرار کرار تغیر کوي، زه نور هغه مهربانه شخص نه وم کم چي خلګو به پیژندلم.

زه ورځ په ورځ خودخوا کیدلم، ځیني وختونه به په عادی شیانو غوصه کیدلم چي اصلا هغه به مهم هم نه وه. ما تونده رویه شروع کړل اول د خپلي میرمني سره، ځیني وختونه به مي هغه وهل او ډبول ـــ مګر په هغه وختو کي ان حیوانانو سره به مي هم ښه چلند نکوي. هغوی به مي هم وهل خو بغیر له پلوتو څخه .

زما ناروغي ورځ په ورځ سخته کیدل ـــ اه رشتیا ځښاک(شراب چښل)کول هم یوه لویه ناروغي ده!

ډیر ژر مي پلوتو ته هم زیان رسول شروع کړل. زما هغه شپه وس هم ښه په یاد ده .

ځښاک مي ډیر کړي وو کور ته ناوخته راغلم . نه پوهیرم چي پلوتو زما په لیدلو سره ولي نه سول خوشحاله .

پلوتو به زما څخه لیری تلل، هغه نوره ماته نږدي نه راتلل ! ما هغه و نیول او په غیږ کي مي را پورته کړل. هغه زما څخه ویریدل او زما لاسونو حخه به یی ځان خلاصوی.

یو دم لکه زما وجود کي چي بل څوک وی لکه شیطان چي وي، ډیر ځښاک ځښلو لیوني سوي وم!

خپل جیب څخه مي چاقو را وکاړي او د پلوتو بیچاره مي تر غاړي ونیول او یوه سترګه مي ځیني ویستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته سهار، کله چي د خوب څخه را کښېنستلم عقل مي د وحشت او درد څخه ډک وو. زه ډېر پښېمانه وم، نه پوهېدلم چي ما څنګه داسي شيطانی کار وکي. مګر ځښاک مرسته راسره وکړل چي دغه پيښه ژر هېره کم.

کرار کرار پيشي ښه کېدل ،هغی نور د درد احساس نکوي.

نور يی نو د سترګي په ځاي کي ډېر خراب سوري پيدا سوي وو.هغی يوځل بيا د کور پر شاوخوا تګ او راتګ پيل کړل. پلوتو نور هيڅکله ماته نږدې نه راتلل، کله به چي زه نږدې ورتللم نو دا به را څخه ليري تلل. زه پو سولم چي د هغي نور زه نه خوښېږم. اول وختو کي خوابدي وم، يواځيتوب احساس به مي کوي. مګر وروسته می يو ځل بيا په غوصه کولو پيل وکي.

يو ويرونکي کار مي وکي ، زه مجبوره وم چي دغه کار وکم .ما خپل ځان نه سولای کنترول کولای، هغه وحشي درد چي مي په زړه کي وو و مي کي.

ما پيشي را ونيول او پر درختي مي پر غاړه را و ځړول چي مړه سي، او مړه سول.

هغه شپه نابېره/يودم د خوب څخه را کښېنستلم ، خونه می د اور د لمبو د روښنايي څخه ډکه وه، د خلګو ږغونه مي اوريدل چي ويل يې، اور! اور!

زموږ کور سوځيدي! زه ، ميرمن او زموږ خدمتکاران بختور وو د اور څخه و ژغورل سولو.

موږ ولاړ وو او خپل په سترګو مو د خپل کور د سوځلو ننداره کول. په سهار کي د کور هيڅ شي هم جوړ ندی پاته سوي، د کور ټوله ديوالونه مو په هغه شبه نړيدلي وه، خو بغير له يوه ديوال څخه .

د کور د ستون ديوال زه پوسولم چي دغه ديوال ولي ندي نړيدلي. ځکه چي دغه ديوال مانوي د ګچ پلستر کړي وو لږ برخه يی پاته وه. ديوال ته نږدې خلګ ولاړ وه هغوی خپلو مينځو کي خبري کولي او وارخطا معلوميدل ما ورته تعجب وکي او نږدې ورغلم.

د هغوی د اوږو له مينځ څخه مي پر ديوال يو تصوير وليدي، هغه تصوير د يوي غټي توري پيشي وو چي پر غاړي باندي را ځړول سوي وه.

ما په ډيري بيري سره کتل، پر فکر کولو را باندي څو دقيقی راباندي تېرسوي، زه مجبوره وم چي ددي سبب پيدا کم. زما په ياد سول چي ما خو په باغچه کي پر درخته چي د دروازي تر څنګ وه را ځړولي وه. په و خت کي اور بل وو باغچه د خلګو څخه ډکه وه، هتما يوه نفر د پيشي جسد د درختي څخه ايسته کړي وو او د کلکين څخه يی خوني ته را غورځولي وو تر څو زه ويښ سم. شايد د پيشي جسد د ديوال سره چي ما نوي ګچ کړي وو مښتي وي. پيشي په مکمل ډول سوځيدلي وه، يواځي ئي تور شکل پاته سوي وو، بلی زه سم وم داغسي پيښه سوي وه.

مګر په مياشتو مياشتو يي زما هغه شکل د فکر څخه نه وتي. ځيني وختونه به مي په خوب کي هم ليدل.

د هغه حيوان په اړه به مي ډېر بد احساس کوي. خپلي پيشي پسي ډير خفه وم.

وروسته مي د بلي پيشي د پيداکولو لپاره کوښښ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېري وخت به په زړو ځایونوکي پسي ګرځېدلم، او هغه ځایونه چي ما به پکښي څښناک کوي.

ترڅو داسي پیشي پیدا کم چي شکل او رنګ یی پلوتو ته ورته وي.

یوه شپه، زه په میخانه کي په تاریکه کي ناست وم ، چي د شرابو پر بوتلانو چي په الماریَ کي پراته وه، توره سایه ولیدل، زه ډېر هیران سولم، او څو دقیقي می د بوتلانو خواته کتل،زما په فکر زه باوري وم چي دغه سایه ترمخه دلته نه وه.
د خپل ځاي څخخه ولاړ سولم او د هغه خواته نږدي ولاړم خپل لاسونه مي ور نږدي کړل تر څو چي مي هغه پیدا کړل. هغه یوه توره پیشي وه ، ډېره غټه د پلوتو په شان، د هر اړخ څخه د پلوتو په شان وه، مګر یو توپیر یي درلودي. پلوتو د غاړي پرشاه سپین ټکی نه درلودي،دغي پیشي د غاړي پر شاه سپین غټ ټکی درلودي.پیشي د الماری څخه خیز کړل او زا پر شاوخوا راګرځېدل. د هغي زه خوښ سولم.

دا هغه حیوان وو چي زه پسي ګرځېدلم! هغه وروسته زما ډېره نږدي ملګری سول، کله به چي زه د کور بهر تللم هغه به هم راسره تلل تعقیب کولم به یي ، او کورته به زما سره یوځای را تلل. ما نوی کور درلودي. کله چي پیشي کورته داخله سول یودم ئي چوکي ته خیز کړل او هلته ویده سول.

هغه زموږ سره اوسیدل، هغي زموږ دواړو سره ( زما او میرمن )سره یي ډېره مینه درلودل.

ډېر ژر یي زما د میرمني په زړه کي ځاي پیداکي. مګر کله چي څو هفتي تېري سولي زما د حیوانانو څخه کرکه پیدا کړل، زه نه پوهیدلم چي ولي؟

په کمه اندازه چي پیشي زما سره مینه درلودل په هم مغه اندازه ما ځیني نفرت کوي.

ما د هغي څخه په نفرت کولو شروع وکړل. خو هیڅکله مي پر هغي د ظلم کولو کوښښ نه کوي.

بلي هو ما ډېر احتیاط کوي د هغي څخه به لیري ګرځېدلم ځکه چي ما په یاد وه چي په پلوتو بیچاره مي څه حال راوستلي وو. همدا رنګه ما ددي پیشي څخه نفرت کوي،ځکه چي هغي یوه سترګه درلودل، ما هغه وخت ددي سترګه ولیدل په کم سهار کي چي دا زما سره کور ته راغلي وه.

بلي هو یواځي همدا دلیل وو چي زما مینه ناکي میرمني هغه یي خوښول د پلوتو په څیر.

مګر څنګه چي ما د هغي څخه نفرت کوي ماته به داسي معلومیدل چي پر هغي زه وس هم ګران یم.

هغه به هر ځاي راپسي وه او پښو ته به راتلل او کښینستل به. ځیني وختونه به هغي کوښښ کوي چي زما زنګونو ته را وخیږي او پر زنګونوباندي کښیني، کله به چي هغي دا کوښښ کوی ، زړه به مي غوښتي چي هغه مړه کم، مګر دا کار به مي نه کوي. پلوتو مي په یاد وه خپل ځان به مي کنټرول کي په همدي خاطر ددي حیوان څخه ویریدلم. زه نه پوهیږم دغه بیره تاسو ته سنګه بیان کم ؟

کرار کرار مي بیره په یوه عجبه وحشت بدله سول. بلی هو وحشت. که چیري زه تاسو ته بیان کم شاید ستاسو باور ونه سي. شاید پر ما د لیوني ګمان وکي.

میرمني به مي پیشي ونیول او د هغي د غاړي پر شاه چي کم سپین نښان وو راته ښکاره کوي ، او ویل به یي ددي دغه نښان ډېر وخت کیږي تغیر کوي، خو ما به د هغي په خبره باور نکوي. خو وروسته تر څو هفتو مي ورته پام سو ،ربښتیا هم دهغي د غاړي سپین نښان تغیر کوي. دغه نښان کي یو راز پټ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته تر یوي هفتي  زه په پوسولم چي دغه نښان کي هتما یو راز پټ دي.

زه ویریدلم چي ددغه نښان نوم مي ویلي ،هغه نښان دیوه خطرناکه د مرګ د ماشین وو،

بلی هو  هغه نښان د دار د رسۍ وو.

نور زه په خوشحالي او  او  غم نه پوهیدلم، په ورځ کي به پیشي زه یواځي نه پریښولم، په شپه کي به یي زه د خوب څخه را ویښولم. زما په یاد دي  کله به چي زه د خوب څخه را کښینستلم پیښي به مي سر ته ناسته وه ،پر زړه به مي فشار راغلي او بدت به مي دروند سو.

زه نور بدل سوي وم، لړ اندازه  ښیګڼه هم نه وه  را پکښي پاته. ما نور د بدو شیانو په اړه فکر کوي، شیطاني فکرونو مي په دماغ کي ځاي نیولي وو. هر نفر او هر شي څخه مي کرکه کول ، حتا د خپلي مینه ناکي میرمني څخه هم. یوه ورځ میرمن مي زما سره لاندي د لرګو اطاق ته راسره راغلل تر څو لرګي مات کړو، (موږ غریبان سوي وو، مزدوران مو نه درلودل).
همدارنګه پیشي موږ یي تعقیب کړلږ او لاندي اطاق ته راسره راغلل، نږدي وو  هغي زه د زینو څخه لاندي غورځولي وایي، دغه کار یي ماته غوصه راوستل، تبر مي را پورته کي کوښښ مي وکي پیشي پر مینځ دوې ټوټې کم خو میرمني مي زه د بارزو څخه ونیول او او ددي کار څخه یی را ګرځولم دغه کار یي ماته نور  هم درد راوستي میرمن مي پوري وهل ، یوځل بیامي تبر را واخستي کله مي چي تبر پورته کي  تبر د میرمني پرسر ومښتي او میرمنه مي ځاي پرځاي مړه سول.

زه مجبوره وم چي د میرمني جسد مي پټ کم. زه پوهیدلم چي د میرمني جسد مي د کور دباندي نه سم ایستلاي ددي له پاره چي ګاونډیان د میرمني جسد مي ونګوري فکر مي وکي چي جسد ټوټه ټوټه کم او وسوځوم، بیا مي فکر وکي چي جسد د خوني په دیوال کي ښخ کم، بیا مي فکر کوي چي جسد ویالي ته و غورځوم کم چي زموږ باغچه کي تېره سوي وه، فکر مي وکي چي د تختو په صندوق کي واچوم او د کور څخه یي د باندي وباسم، اخر مي تصمیم و نیوي چي باید جسد د خوني په دیوال کي ښخ کم، د خوني دیوال مو د ویالي سره نږی وو ، دیوال زوړ او نمناکه وو چي په اساني سره تراش کیدي،فکر مي وکي چي په اساني سره پدغه دیوال کي جسد پټ کولای سم. دا ډیر سخت نه وو د ګچو پلستر مي و تراشي، د دیوال څو ډبري مي را ایسته کړلي د میرمني جسد مي هلته کښیدوي او ډبري مي بیرته ځاي پر ځاي کړلي او دیوال مي بیرته جوړاو د ګچو نوي پلسترمي ورکي . وروسته مي ټوله منزل پاک کي او وروسته صرای ته رالم ټول ځایونه مي ښه په دقت سره ولیدل ټوله شیان بیرته پخوا رقم معلومیدل ځان سره مي وویل هیڅ څوک به هم پو نسي. وروسته لوړ منزل ته وختلم تر څو پیشي مړه کم هغي دا ټولي بدبختي  پر موږ را وستلي دي. ټولو ځایو کي مي پسي وکتل تر څو مړه یي کم خو هغه په هیڅ ځاي کي هم نه وه. پیشي ډیره هوښیاره وه زه باوري وم چي دا ددي پیښي له خاطر تښتیدلی وه.

ټوله شپه ورته انتظار وم خو دا شیطان صفته پیشي مي نه ولیدل هغه ټوله شپه نده راغلي.

هغه سربیره مي فصله ډیر وخت ته اول واري ښه راحت خوب وکي، کله چي سهار را کښینستلم د پیشي په نه لیدلو سره مي تعجب وکي، دوي ، دري  ورځي تېر سولي پیشي نه وه ،زه نه پوهیږم  چي سنګه تاسو ته بیان کم چي ما د پیشي په نه شتون کو سنګه ښه احساس کوي. بلی هو دا هم هغه پیشي ده چي دا تولي بدبختي او بلاوي پر موږ را وستلي وي، ما نور د هغي په نشتون کي یوځل بیا د یو آزاد انسان په خیر ژوندکولو شروع وکړل، ډیر ښه وو. نور پیشي نه وه! نور  هیڅکله نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دير خلک را غلل د ميرمن په اړه به يي پوښتنه کول ، ما به په ډېره اساني سره هغوی ته جواب ورکوي.

وروسته پر څلورمه ورځ پوليس راغلل. کله چي هغوی کور تلاشي کوي زه هيڅ وارخطا نه وم. هغوی راته وويل د تلاشي په وخت کي ته هم بايد راسره ووسي ،هغوی هر ځای څو څو واري و پلټي، وروسته هغوی لاندي د لرګو خوني ته تاسول او زه هم په ډاده زړه وروسره را کښته سولم. هغوی ټوله ځايونه وکتل او هيڅ شي هم نکړل پيدا ، هغوی د تللو قصد وکي، زه ډير خوشحاله وم کله چي هغوی تلل هيڅ د خپلو خبرو د را ګرځولو نه وم ، په حقيقت سره زه نه پو هيدلم چي زه څه وايم:ګرانو ملګرو ښه ورځ ولري ، زه بی له دي چي پوسم هغوی ته مي وويل:ښه وخت ولري ملګرو، رښتيا هم دغه د خوني چت ډير زوړ دي، آيا ندي؟ دا کور ډير زوړ او پخواني دي. دغه ديوالونه ـ ملګرو دغه ديوالونه دير ټينګ او کلک دي. آيا ندي؟ ما هغه ديوال چي ميرمن مي پکښي ښخه کړي وه ټينګ ټينګ مي و ټکوي، د ديوال د دننه څخه د ماشوم د ژړا غوندي آواز راغلي، زه و بيريدلم او پوليس هم و دريدل. هغوی د يوال په نړولو شروع وکړل،ديوال يی ډير ژر ونړوي او او جسد يي پيدا کي هغوی وليدل چي جسد په ولاړی سره دفن سوي وو . ټولو جسد ته کتل چي د جسد پر سر وينه يخي سوي وه او ټول بدن يي په وينو لړل سوی وو هلته سرته يي پيشي هم وه چي خوله د وينو څخه ډکه وه او يوه سترګه يی د اور په شان ځليدل د ميرمني سره مي يوځاي په ديوال کي بنده سوی وه.

هوښيار حيوان! ميرمن مي ددې له لاسه مړه سول، او وس ددي شيطاني ږغ له امله زه په دار کيږم.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**